احسان الله اریزی
۲۰۲/۰۹/۱۵

# نړیوالي ټولنې

## ۸۲ برخه

**سیمه ییزه ټولنې**
**امریکایی ټولنې**
د امریکا لویې وچې تر ټولو غټه ټولنه (د امریکایي هېوادونو ټولنه یا OAS) ده چې نژدې ټول امریکایي هېوادونه يې غړیتوب لري؛ خو د دې په څنګ کې نورې ټولنې هم شته چې د جغرافیې، واک او فعالیت له پلوه کمکی بلل کېږي.د امریکا لویې وچې ځینې مهمې ټولنې دا دي:

### ۱ – د امریکایي هېوادونو ټولنه The Organization of American States (OAS):
د امریکا د لویې وچې د پیوستون هلې ځلې اوږد عمر لري. د امریکایي هېوادونو ټولنه په تاریخ کې یوه ډېره پخوانې بین الحکومتي ټولنه ده، چې په کال ۱۸۲۰ کې جوړه شوې ده. په دی کال کی اکوادور، پانامه، کولمبیا او وینزویلا او د پخوانی سترې کولمبیا مشر سیمون بولیوار په پانامه کې، د امریکایي هېوادونو د یووالي کنګره جوړه کړه. که څه هم چې د دې هڅې د دویمې غونډې د جوړولو تیاریانې روانې دي؛ خو داسې ښکارېده چې سیمون بولیوار په دې نه دی بریالی شوی، چې د برتانیا د سیاسي لاسوهنو له امله، د امریکایي هېوادونو د ګټو د ساتلو ټولنه جوړه کړای شي؛ له دې وروسته نورو خلکو دې هڅو ته دوام ورکړ او په ۱۸۴۷ او ۱۸۶۲ کلونو کې د پیرو په نوښت دوې کنګرې جوړې شوې.
په هغه وخت کې برتانیا وېره درلوده چې امریکا متحده ایالات به، په دې امریکایي ټولنه برلاسي شي؛ ځکه یې په برازیل او ارجنتاین فشار راوړ چې د پانامه په غونډه کې برخه وانخلي. د امریکا متحده ایالاتو استازي هم د لارې د لیرې والي په توسن (علت) په وخت ونه رسېدل. که څه هم چې د پانامه غونډه بریالۍ شوه؛ خو ګډونوالو د کال ۱۸۶۲ د جون په ۱۹ داسې یو تړون لاسلیک کړ چې د ولسونو ټولنې جوړېدو ته یې لاره پرانسته.[1]
په لومړۍ کنګره کې د کنفدرال نظام په اړه خبرې وشوې، چې د غړو هېوادونو ملي حاکمیت ته یې زیان رساوه.
دویمه کنګره د سولې د ټینګښت او د امریکایي هېوادونو د یووالي په هکله وه. له بده مرغه چې د دواړو کنګرو ډېرې پرېکړې عملي نه شوې.
په کال ۱۸۸۹ کې د امریکا متحده ایالتو یو چارواکی، جیمز بلین، د سیمون بولیوار طرحه تر بیاکتنې لاندې ونیوه او د ټو امریکایي هېوادونو په ګډون یې، په واشنګتن کې یو کنفرانس جوړ او د یوې ټولنې بنسټ کېښود. دې ټولنې په لومړي سر کې کمکي تشکیلات درلودل او د سوداګرۍ د یوې خونې له لارې یې هڅه کوله چې د امریکایي هېوادونو تر منځ دوه اړخیز او څو اړخیز پوهاوی لوړ او د غړو هېوادونو ګمرکي او سوداګریزه معلومات ټول او تنظیم کاندي.[2]
د امریکایي هېوادونو په څلورمه نړېواله غونډه کې (۱۹۱۰)، پاسنۍ ټولنه د امریکا د جمهوریتونو اتحادیه او اړوند سوداګریزه خونه یې، د پان امریکن دفتر (Pan American Organization Office (PAOO په نامه ونومول شول. دی ټولنی په راتلونکو څو کلونو کی، څو غونډی جوړی کړی.
په کال ۱۹۴۸ کې د دې ټولنې په نهمه ناسته (بوګوټا – کولمبیا) کې، د امریکا جمهوریتونو د اتحادیې په ځای، د امریکایي هېوادونو ټولنې The Organization of American States (OAS) کرنلاره او اساسنامه تصویب شول چې یوه سریزه او ۱۱۲ مادې یې درلودې او د کال ۱۹۵۱ د دسمبر په ۱۳ اجرایي شول. په کال ۱۹۶۵ کې د OAS په هغه ناسته کې چې په ریودوژینرو (ارجنتاین) کې وشوه، د ټولنې په سیاسي او اقتصادي اهدافو کې اصلاحات منظور شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کال ۱۹۸۵ کې دا کړنلاره د کارتجنا (کولمبيا) په ناسته کې بيا تعديل شوه او د ټولنې سرمنشي ته، د ملګرو ملتونو د منشي په څېر ډېر واکونه ورکول شول. په دې تعديلاتو کې د هغه سيمو د غړيتوب په هکله هم آسانتياوې تصويب شوې چې ژر خپلواکې ته رسېدې.
غړيتوب: هر امريکايي هېواد چې کړنلاره او اساسنامه ومني، د OAS غړيتوب ترلاسه کولای شي. OAS اوس ۳۵ غړي لري. کانادا د وروستي غړي هېواد په توګه، په کال ۱۹۷۲ کې له دې ټولنې سره يو ځای شو. له هغه ځايه چې OAS ضد کمونستي تګلاره درلوده؛ ځکه يې په کال ۱۹۶۲ کې د کيوبا غړيتوب وځنډاوه.[3]
د OAS غړي هېوادونه دا دي: برمودا، ارجنټاين، باهاماس، باربادوس، بليز، بوليويا، برازيل، کانادا، کولمبيا، کوستاريکا، چيلي، دومنيکن، دومينيکن (دومنيکا جمهوريت)، اکوادور، السلوادور، ګريناډا، ګواتيمالا، ګويان، هايتي، هاندوراس، جميکا، مکسيکو، نيکاراګوا، پانامه، پاراګوای، پيرو، سنت کيتس او نويسل، سنت ونيسنت او ګريناديس، سنت لويسا، سورينام، ترينيداد او توباګو، امريکا متحده ايالات، يوروګوای او ونزويلا.[4]
اهداف: د غړو هېوادونو د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه او په هغوی کې د سولې، ثبات، عدالت، اقتصادي خپلواکي او د ټولنيزه – اقتصادي او سياسي پرمختګونو او پراختياوو ګړندي کول، د OAS په لويو اهدافو کې راځي. OAS د خپل فعاليت په موده کې دا ۵ خبرې په پام کې نيولې: د هېوادونو په کورنيو چارو کې لاس نه وهي، هېوادونه متقابله امنيت ته بولي، د بشري حقونو او ولسواکيو ملاتړ کوي، اقتصادي ګډ کار هڅوي او د شخړو د سوله ييز حل پلوی ده.
جوړښت: عمومي ټولنه، د وزيرانو مشورتي ناسته، دايمي شورى، د پراختيا له پاره بين الامريکايي شورى او دارالانشا د OAS لوي اداره کوونکي ارګانونه دي.
عمومي ټولنه: عمومي ټولنه د OAS تر ټولو ځواکمن سياسي ارګان دی چې د غړو هېوادونو له استازو جوړه ده او په کال کې يو ځل په واشنګټن (امريکا متحده ايالات) او يا کوم بل غړي هېواد کې غونډه جوړوي. عمومي ټولنه د OAS تګلارې او کړنلارې ټاکي، بودجه تصويبوي او ټول OAS او تخصصي ځانګې يې اداره کوي.
د وزيرانو مشورتي شورى: دا شورى هر وخت د غړو هېوادونو د بېړنيو (عاجل) مسايلو ارزونې له پاره جوړېږي. ټول غړي هېوادونه کولای شي چې داسې غونډو ته استازي ولېږي. دا شورى په امنيتي کارونو لګيا ده او که چېرې په لوېديځه نيمه کره کې کوم وسله وال پرغل وشي؛ نو ژر غونډه جوړوي او پرېکړه کوي.
دايمي شورى: دا شورى چې د OAS د غړو هېوادونو له دايمي استازو جوړه ده، په هرو دوو مياشتو کې په نيويارک (امريکا متحده ايالات) کې د ملګرو ملتونو په مقر کې سره ګوري او د OAS ورځني کارونه څاري او مرسته کوي. د دايمي شورى ډېر غړي په ملګرو ملتونو کې د خپلو هېوادونو سفيران دي.
د پراختيا له پاره بين الامريکايي شورى: دا شورى په کال ۱۹۹۳ کې، د غړو هېوادونو د علمي، زده کړنيز او فرهنګي پراختياوو، د بېوزلتيا د ريښو (ولې) وچولو او د وزګارتيا د کمولو په شان مسايلو، د څېړنې او په دې برخو کې د غړو هېوادونو تر منځ د ګډ کار د هڅولو له پاره جوړه شوه.
دارالانشا: د OAS د اداري چارو دفتر چې په سر کې يې سرمنشي ځای لري. د دارالانشا سرمنشي او مرستيال سرمنشي، د OAS عمومي ټولنه د ۵ کلونو له پاره ټاکي. دارالانشا د غونډو او کنفرانسونو د جوړولو مسووليت هم په غاړه لري.
تخصصي ځانګې: OAS لاندې تخصصي ځانګې لري:

- د ښځو د چارو له پاره بين الامريکايي کميسيون،
- د کرنې په برخه کې د ګډ کار بين الامريکايي انستيتوت،
- د روغتيا بين الامريکايي ټولنه،
- د بشري حقوقو بين الامريکايي کميسيون،
- بين الامريکايي دفاعي بورد،
- د نشه يي توکو د مخنيوي بين الامريکايي کميسيون.[5]

---

[1] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۳۰-۲۲۹
[2] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۳۰
[3] نړيوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۶۱
[4] سازمان های بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۹-۲۸۸
[5]سازمان های بين المللی، نامزد داکتر  محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۹-۲۸۸


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ